مجلۀ علمی – تحقیقی تاج
Taj Academic and Research Journal

تاریخ دریافت: ۱۴۰۳/۵/۳۰
تاریخ پذیرش: ۱۴۰۳/۷/۲۳
Print ISSN: 2664-9144

په ننګرهارولایت کې د کوچني او منځني کچې کاروبارونو پرورانديې خنډونه او حل لارې

عرفان‌الله استانکزی[۱]، حبیب‌الله سربلند[۲]

لنډیز

کوچني او منځني کچې کاروبارونه د یوه هیواد د پرمختک لپاره په پښو دریدلې صنعت یو پیاوړي بنسټ جوړوي، دغه کاروبارونه د اقتصاد ماشین ګڼل کیږي تر ډیره حده دغه ماشین د کوچني او منځني کاروبارونوپه واسطه چلیږي. ددي څیړني مقصد په ننګرهار ولایت کې دکوچني او منځني کچې کاروبارونو پر وراندي ستونزې په ګوته کوي، همدارنګه دغه ستونزو ته په موثره توګه حل لارې چارې وراندي کوي. په دغه څیړنه کې دسروې میتود څخه ګټه اخستل شوي چې د دوسوه او شپږ دیرش کوچني او منځني کچې کاروبارونو څخه لومړني لاس ډاټا ترلاسه شوي، نومورې ډاټا لومړي مشخصه، ډاټا کود ګوزاري شوه، په اړونده موضوعاتو تقسیم شوه، ډاټا په کامل ډول تصفیه، او اصلي موضوعات ترلاسه شول، چې تحلیل یې په اکسل کې ترسره شوه. په پایلې کې ځیني عمده او فرعي خنډونه په ګوته شول چې د عمده خنډونو له جملې څخه کمرکې ستونزې، برښنا کمښت، ښکیلو خواو نه پاملرنه، دفعال صنعتي پارکونو نشتون، دبازارموندنې نشتون، مسلکي کارکونکو کموالي. ښکیل اړخونه لکه دولت، اړونده موسسات دکوچني او منځني کچې کاروباریان باید په ګډه په یومیکانیزم باندې کار وکړي چې یو دوامداره با ثباته پالیسیاني ترتیب اوعملي کړي چې خنډونو ته د پای ټکې کیښودل شي، تر څو کوچني او منځني کاروبارونه د هیواد په پرمختک کې رغنده رول ترسره کړي.

کلیدي کلمې: ننګرهار، کوچني او منځني، کچې کاروبارونه، خنډونه، حل لارې، اقتصاد

---

۱. د روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځي استاد (Irfanullah6066@gmail.com)

۲. د روښان د لوړو زده کړو مؤسسې د علمی چارو مرستیال(vc@rokhan.edu.af)

۱. سریزه

کوچني او منځني کچې کاروبارونه هغه دي چې په فردي توګه یا هم په ټولنیزه توګه تولیدات او خدمات ترسره کوي، چې موخه ورځخه د هیواد پرمختګ او عاید تر لاسه کول وي. دغه ډول کاروبارونه لږې پانګې ته اړتیا لري او عایدات یې هم د ثقیله او درنو صنایعو او غټې پانګونې په پرتله لږ وي.

په کوچني او منځني کچې کاروبارونو کې د غټو شرکتونو او کاروبارونو په پرتله کم شمیر کسان په کار بوخت وي. کله چې په اقتصاد کې د نویو سوداګریو په اړه خبرې کیږي، نو ډېري وخت د سوداګري له نوم ذکر کیدلو سره په خیال کې ډیره پانګونه، د کاروبار لپاره د پراخ ځای، او ډیر امکانات راځي. حال دا چې هر عاید لرونکي کار او فعالیت په خپله یوه پانګونه او تجارت دي. توپیر په دې کې دي چې پرمختللي هیوادونه لکه جرمني، جاپان، امریکا او داسې نور کوچنیو کاروبارونو څخه پیل کوي او لوي صنعت او لوړې پانګونې ته رسیږي. زیاتره هغه هیوادونه چې اوس ښه اقتصاد لري له کوچنیو تجارتونو څخه پې پیل کړي وو، دا زموږ ستونزه ده چې کله مو هم د کوچنیو تجارتونو فرصتونه نه دي پلټلي.

کوچني او منځني کچې کاروبارونه د افغانستان په څېر کمزوري اقتصاد لرونکي هېواد ته حیاتي رول لري، خو تراوسه پورې ورته لازمه پاملرنه ونه وشوه. د کوچني او منځني کچې کاروبارونو لپاره په نړۍ کې کوم هرارخیز او جامع تعریف نه شته، او هر هېواد یې د خپل چاپېریال سره سم تعریفوي، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایع وزارت دا تشبثات په عمومي ډول په دوه برخو وېشلي دي، چې یو خدمات دي او بل یې تولیدي تشبثات دي، چې په یو څو برخو یې ویشلي دي لکه کوچني کاربارونه او د منځني کچې کاروبارونو باندې یې وېشلي دي، چې هر یو یې د تشکیل او پانګې پراساس په لاندي جدول کې تعریف کړي دي. Mussawy, S. N. (۲۰۲۱)

۲. څېړنې اړتیا

ننګرهار ولایت د یو ښه اقلیم درلودونکي دي چې هر ډول کوچني او منځني کچې کاروبارونه په کې ترسره کیدلې شي، او زیاتره خلک یې باسواده دي چې د کاروبارونو په برخه کې تړې کټه اخیستې شي. د موجوده او نورو پانګوالو لپاره ځینې خندونه تر سترګو کیدل، چې دغه ځیرنه اړینه وګڼل شوه چې د ځیرني پر اساس ستونزې رابرسیره کړي او د حل لارې چارې ورته وګوري، چې په نتیجه کې په کوچني او منځني کچې کاروبارونو باندې په پراخه کچه پانګونه وشي.

شماره ۱ جدول: داغه لاندی جدول په افغانستان کی د کاروبارونو دولونه روښانه کوی

			Investment in equipment	
No	Type of enterprise	# of employees	Manufacturing sector	Service sector
1	Micro	<5	<2.5million AFN	<1 million AFN
2	Small	5-19	2.5-5 million AFN	1-2 million AFG
3	Medium	20-99	5-10 million AFN	2-5 million AFN
4	Large	>100	>10 million AFN	>5 million AFN

۳. موخې

د څېړنې موخې په لاندې ډول دي:

لومړي: په ننګرهار کې د کوچنيو او منځنيو کچې کاروبارونه پر وړاندې خنډونه په ګوته کړي او هغې لپاره د حل لارې چارې وړاندې کړي.

دوهم: ددې څېړنې پرتړسره کولو سره به دولت او ښکيل اړخونو سره د مکانيزم او دوامداره پالسيانو په جوړولو کې مرسته وکړي.

دريم: د دې څېړنې په ترسره کولو سره به موجوده او نوو پانګوال د پانګوني په صورت کې خپل پلانونه او ستراتيژياني ترتيب اوخپل اهداف به اسانۍ ترلاسه کړي.

څلورم: د دې څېړنې په ترسره کولو سره به يو نوي څېړونکي ته ډاتا په لاس ورشي ، او نور تحقيق لپاره به پرې ژوره څېړنه وکړي.

۴. پوښتنې

۱٫۴. په ننګرهار کې د کوچنيو او منځنيو کچې کاروبارونو کمرکې ستونزې په کومه کچه دي؟

۲٫۴. په ننګرهار کې د کوچنيو او منځنيو کچې کاروبارونو ورځنۍ کارونه د بريښنا د کمښت له امله په کومه اندازه ټکنې کيږي؟

۳٫۴. په ننګرهار کې د کوچنيو او منځنيو کچې کاروبارونوته د ښکيلو خواو پاملرنه په کومه کچه دي؟

۴٫۴. په ننګرهار کې د کوچنيو او منځنيو کچې کاروبارونو ته دفعال صنعتي پارکونو موجوديت په کمه کچه دي؟

۵٫۴. په ننګرهار کې د کوچنيو او منځنيو کچې کاروبارونو د اجانسو او خداماتو د خرصلاو په پار بازار مونده په کمه کچه ترسره کيږي؟

۶٫۴. په ننګرهار کې د کوچنيو او منځنيو کچې کاروبارونو کارکونکي په روزمره فعاليتونو کې په کومه کچه ارزوئ؟

۵. تيرو څېړنو ته کتنه

کوچنيو او د منځنۍ کچې تشبثات يا SMEs په ټوله نړۍ کې د کاري بوختياو په رامنځته کولو کې غوښنه برخه لري، که ارقامو ته ولیدل شي، نو د ټولې نړۍ ٪ ۹۰ کاروبار د هم دې کوچنيو او منځنيو کچو کاروبارونو څخه جوړ دي، چې ٪ ۵۰ کاري مشغولتيا د هم دې کاروبارونو په وسيله رامنځ ته شوې ده.

عموماً په غربيو يا د اقتصاد له اړخه په پرمختلونکيو هېوادونو[1] کې د لاندې ځانګړنو له کبله خلک کوچنيو يا د منځنۍ کچې کاروبارونو ته مخه کوي:

لومړي، کم کاروباري مهارتونه: عموما په غربيو هېوادونو کې کاروباري مهارتونه کم وي، يعنې هر کاروبار کول په دا ډول هېوادونو کې دودیزه بڼه لري، کلتور او رسم و رواج يې د کاروبار بڼه اغېزمنه کړي وي، نو له هم دې کبله په دا ډول ټولنو کې خلک لوي کاروبار او پانګونه په اسانۍ سره نه‌کوي او کوچني يا د منځنۍ کچې کاروبار ته مخه کوي.

1. Developing Countries

دوهم، لږه پانګه: مونږ که خپل هېواد او د سیمې شاوخوا هېوادونو ته یو نظر واچوو، نو عموماً د داسې هېوادونو وګړیو سره د پانګې اچوونې او کاروبار له پاره ورسره شتمني کمه وي، چې لوی کاروبار دې پرې پیل کړي، نو له دې کبله د کوچني کاروبار پیل ته مخه کوي.

درېیم، کمزوري ټکنالوژي: په ځُلي ډول په ننۍ نړۍ کې د کاروبار د پیلولو له‌پاره تکنالوژي اړینه ده، د بېلګې په ډول که تاسې یو کوچني مجوز کاروبار پیلوئ، نو لومړي باید ټولنیزو رسنیو ته د بازارموندنې په موخه یو کس وګمارئ، وېب‌سایټ ولرئ، انټرنېټ ولرئ او لسګونه نورې کیسې. خو که یو غیر رسمي کوچني یا د منځنۍ کچې کاروبار پیلوئ، نو ښکاره ده، چې عادي ټکنالوژۍ ته به اړتیا لرئ، یعنې د ټکنالوژۍ پر جوړښت پې لږ لګښت راځي، له هم دې کبله خلک دا ډول کاروبارونو ته ډېره مخه کوي.

څلورم، لږ خام موادو ته اړتیا: عموماً په کوچنیو کاروبارونو کې خامو موادو ته کمه اړتیا لیدل کېږي، نو ځکه یې پیلول اسانه وي. فرضاً، که په ننګرهار ولایت کې دوه زره مېرمنې د خامک کاروبار کوي، نو دوي خام موادو په څه ډول له کومه ځایه، څومره اخلي؟ ډېر اسانه، له کلي دوکان یا ښار څخه د ۵۰۰افغانیو تار او ټوکر پېرې او خپل کار پیلوي(Naibzi.A.W, 2022).

په داسې حال کې چې د نړۍ نفوس ورځ تر بلې دزیاتېدو په حال کې دي او د نفوس د دغه زیات والي سره سره په مصرفي بازارونو کې تر بل هروخت د توکو اوخدمتونو غوښتنه زیاته شوې ده، او دغه رامنځ ته شوې غوښتنه ایجابوي چې تولیدي او خدماتي شرکتونه دې رامنځ ته شي ترڅو د بازارونو اضافي غوښتنې رفع کړي. خو آسیا یو د هغه بازارونو څخه دي چې ځان ته یې داسې یوشکل غوره کړي دي چې ګواکې د پانګې اچوني لپاره چمتو ده. اوسني حالت هم دکوچینیو او منځینیو شرکتونو درامنځ ته کېدو او پرمختګ لپاره فرصتونه رامنځ ته کړي دي او اوسني ظرفیتونه ددغه تشبثونو د پرمختګ لپاره یو غوره بستر دي .(pasarli.S, 2016)

د سوداګرۍ او صنایعو خونې دځېرني د موندنې پراساس چې په ۲۰۱۸ کې ترسره کړه دي د دغې ځېرنې موندنې ښيي چې پانکه په هېواد کې د کار او بار د وضعې په اړه ناخوښې ښودلې ،همدارنګه د منځنیو او کوچنیو شرکتونو ځرنګوالي هم د اندېښنې وړ ښودل شوي.

په دې ځېرنه کې چې په پنځو ولایتونو کې د تولید، خدمتونو، ودانیزو چارو، سوداګرۍ او کرنې د برخو د ۴۰۰ شرکتونو له خواندانو سره مرکې شوي دي. د دې ځېرنې موندنې ښيي چې د کابل، کندهار او بلخ په ولایتونو کې د کار او بار وضعیت خراب شوي خو په ننګرهار او هرات ولایتونو کې د کار او بار وضعیت ښه ښودل شوي دي(Tolonews, 2018).

د صنایعو او سوداګرۍ وزارت د کوچنیو او متوسطو تشبثاتو د ملاتړ او پراختیا لپاره له ۱۰ غیر دولتي موسسو سره په ټبلابېلو برخو کې د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک کړل.چې له دې کاره یې موخه په هېواد کې د کوچنیو اومنځنیو تشبثاتو د ملاتړ او پراختیا لپاره د زمینې برابرول دي.دا بنسټونه به د هېواد په ټبلابېلو ولایتونو کې د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو، لاسي صنایعو، د میرمنو د اقتصادي توانمندۍ په برخو کې فعالیتو نه ترسره کړي.(arianews, 2023)

افغانستان باید د نورو پرمختللو هیوادونو تجربې تعقیب کړي ترڅو وکولې شي دخصوصي سکتورونو د ودې له لارې داقتصادي پراختیا او فقر په کمولو کې برېالي شي.(Taraki, S. A, 2019)

په افغانستان کې خصوصي سکتور مالي منابعو محدود لاسرسي،نا امني، لوړ ورځني عملياتي لګښت، دملاتړ نشتوالي، داخلي او نړيوال بازارونو ته محدود لاسرسي ترټولو اصلي ننګونې دي(Abdullah.M, 2021).

حکومت ته په کار ده چې نوي ټکنالوژي، مسلکي کارونکي وروزي چې ترڅو کوچني او منځني کاروبارونو وده وکړي ، او همدارنګه دغه کاروبارونه بايد خپل ټولې منابع بايد په کارواچوي چې خپلو محصولاتو ته په ښه ډول بازارموندنه وکړي (Khan, W., & Adel, K 2019).

خراب وضعيت د خصوصي سکټور د پراختيا لپاره تر ټولو لومړني خنډ دي چې پايله يې سياسي، ټولنيز او اقتصادي خطرونه دي، په دې برخه کې افغانستان هيڅ استثنا نه لري، سره له دې چې کوچنۍ او منځنۍ تصدۍ د اقتصادي ودې يو مهم عامل کيدي شي (Elagin 2019).

د دې څېړني موندني دا ښايي چې کوچنيو او منځني کچې کاروبارونو لپاره ځيني محدوديتونه شتون لري کله چې په عامه تدارکاتو کې کډون کوي د داوطلبانو د ټاکنې لپاره د وړتيا معيارونه، دمعلوماتو افشاء کول او دپوهيدو کيفيت دهغې اصلي انديښنې دي، همدارنګه دمالي تضمينونو ډيره اړتيا، د رسمي داوطلبۍ وړانديزونو په ليکلو کې د داوطلبانو د تخنيکي ظرفيت نشتوالي اصلي محدوديتونه دي چې د کوچني او منځني کچې کاروبارونه ورسره مخ دي(HABIBI, H. 2020).


د څېړنې موندني دا ښايي چې په افغانستان کې کوچني او د منځني کچې کاروبارونه د قوت نقاط، دضعف نقاط، فرصتونه او ګواښونه لري، له همدې امله دولت بايد د کوچني او منځني کچې کاروبارونوسره مرستې وکړي، او د سالمې پاليسيو پر اساس دهيواد اقتصاد په وده کې، کوچني او منځني کچې کاروبارونو مثبت رول ولوبوي(Mussawy,S.N 2021).

دا څېړنه په افغانستان کې ټوکرو په سکتور ترسره شوي، چې پايله يې داڅرګنده وي چې دغه سکتور دامنيت نشتوالي، دحکومت ملاتړ نشتوالي، دبهرنيو بازارونو سختې سيالي له امله ډير متاثره شوي، او همدغه يې عمده لاملونه ګڼل کيږي. (Faqiri, F. M., Shams, M. S., & Gul, S. 2019)

۶. مواد او کړنلاره

په دغه څېړنه کې د سروې ميتود څخه ګټه اخستل شوي چې د دوسوه شپږديرش کوچني او منځني کچې کاروبارونو څخه لومړني لاس ډاټا ترلاسه شوي، نومورې ډاټا لومړي مشخصه، ډاټا کودګذاري شوه، په اړونده موضوعاتو تقسيم شوه، ډاټا په کامل ډول تصفيه، او اصلي موضوعات ترلاسه شول، چې تحليل يې په اکسل کې ترسره شوه. په نتيجه کې ځيني عمده او فرعي خنډونه په ګوته شول چې د عمده خنډونو له جملې څخه ګمرکي ستونزې، بريښنا کمبود، ښکيلو خواو نه پاملرنه، دفعال صنعتي پارکونو نشتون، دبازار موندنې نشتون، مسلکي کارکونکو کموالي چې په لاندي پاي چارټ کې تاسي کتلې شي.

شکل – ۱



په پورتني پاي چارټ کې تاسي کتلي شي چې تر ټولو لومړي او غټه ستونزه دبريښنا کمبود دي چې ۲۷ فيصده دي پاي چارټ تشکيلوي، همدارنګه په دوهم قدم کې گمرکي ستونزي دي چې د پاي چارټ ۲۴ فيصده برخه تشکيلوي، په دريم قدم کې د بنکيلو خواو نه پاملرنه او دفعال صنعتي پارکونو نشتون چې د پاي چارټ ۱۴ فيصده برخه تشکيلوي په ځلورم قدم د بازار موندنې نشتون او دمسلکي کارکونکو کمښت چې د پاي چارټ ۱۲ او ۹ فيصده برخه تشکيلوي.

۷. مناقشه

لکه څرنګه چې په ننګرهار ولايت کې دوه سو او شپږديرش کوچني او منځني کچې کاروبارونو شتون لري او په مختلفو برخو کې فعاليتونه ترسره کوي، چې دهغې له جملې څخه د شوکاني پروسس، چپس او مرمر، کچ، يخ جوړول، پلاستيکي سامان الات، پي وي سي پايپ، خوراکي توکي، اوړو توليد وريجو پروسس، شاتوپروسس، صابون جوړول، چکليټ، چناچور، پاپړ، ميانچي، جوس او انارو اوبه، اچار، مربا، کيچپ، غوړي، لبنيات، ست سپيغول، کيک کلچې، يوناني درمل، طبعي غوړي، المونيمي لوښي جوړول، ريکشه او موترجوړول، ديک بخار جوړول، توليد اکسيجن، درمل، فايبرګلاس، فرنيچر، ستيل چوکي، يونيفورم، بوټ او څپلي جوړول، کارټن جوړول،کيبل لين، سولري ګروپونه، مالګه، معدني اوبه، صابون، شامپو او پوډر جوړول، چورګورو دانه، قالين بافي، لاسي صنايع، لباس جوړول او داسې نور، په ننګرهار ولايت کې د کوچني او منځني کچې کاروبارونو پروړاندي خنډونه موجود وه خو مونږ ته روښانه نه وه چې کوم خنډ په کومه اندازه زمونږ کاروبارونه متاثره کوي. هو دا دې ځيرنې پر اساس مونږ ته روښانه شوه چې په لومړي قدم کې د بريښنا کمښت او گمرکي ستونزي کرار لري، په دوهم قدم کې دبنکيلو خواو نه پاملرنه او دفعال صنعتي پارکونو نشتون همدارنګه په دريم قدم کې توليداتو د بازارموندني نشتون او مسلکي کارمندانو کمښت دي، د دغو ستونزو دخل لپاره بايدبنکيلې خواوې په ګډه کار وکړي چې يو جامع طرز العمل جوړ او عملي کړي.

۸. پایله

په ننګرهار ولایت کې د کوچني او منځني کچې کاروبارونو پر وړاندې ځینې اصلي او فرعي خنډونه شتون لري، چې اصلي خنډونه د تحلیل په نتیجه کې روښانه شول چې په غټه کچه د بریښنا کموالی او ګمرکي ستونزي دي چې د پاي چارټ ۵۱ برخه تشکیلوي. همدارنګه په منځني کچه ښکیلو خواو نه پاملرنه، او دفعال صنعتي پارکونو نه موجودیت چې د پاي چارټ ۲۸ فیصده برخه تشکیلوي، سربیره پردې د بازار موندني نشتون او مسلکي کارمندانو کمبود دي چې د پاي چارټ ۲۱ فیصده برخه تشکیلوي. همدارنګه د ځیړني په نتیجه کې ځینې فرعي ستونزې هم ترلاسه شوي چې دهغه د جملې څخه پرته د ګمرکي مالیې څخه د بې کیفیته اجناسو او امبالو را واردول، په هیواد کې په ټولو ګمرکاتو کې یو شان قانون نشتون، هغه اجناس او امبال چې د ګمرک له لارې را واردیږي په صحیح توګه نه محصول کیږي قیمتي اجناس په کم او ارزانه اجناسو په نوعه کې محصول کیږي. د بې کیفیته اجناسو او امبالو را واردول پرته د ګمرک د مالیې څخه، په ګمرک کې د اجناسو لپاره د بار وړلو او زیرمه کولو اسانتیاوي نشتون، په ګمرک کې داسکینر او نورو امکاناتو نشتون، د موټرو مالي منابعو نه مو جودیت او د شته مالي منابعو لوړه کټه، د فني او حرفوي کارکوونکو کموالي او نشتون، د تولیداتو او صنعتي توکو د خرڅلاو کموالي، د ګاونډي هیوادونو نسبتاً پر مختللي صنعت چې د ارزانه قیمت له امله زمونږ تولیدات او صنعت زیانمن کوي او دهغوي ډمپنګ پالیسي، دافغاني تولیداتو لپاره په اکثره هیوادونو کې تجارتي اتشو نه فعالیت، دبیمې د امریت له خوا جبري بیمې اخیستل خو چې ځرنګه لازمه ده هغه رقم خدماتو کموالي،دلاسي صنایعو لپاره د داخلي مارکیټ نشتون او دعامه پوهاوي لپاره دپروګرامونو نشتون، چې دغه فرعي خنډونه دي سروې پراساس روښانه شول.

۹. وړاندیزونه

په ننګرهار ولایت کې د کوچني او منځني کچې کاروبارونو پر وړاندې خنډونه اود حل لارو لپاره یې لاندې وړاندیزونه ذکر شوي:

حکومت باید یو جامع پالیسي ترتیب کړي چې مالیه معاف وي چې په صنعتي پارکونو کې ورته ځمکې مشخصې او توزیع کړي،چې دي سره به د پانګې د فرار مخنیوي وشي چې داخلي او خارجي پانګه والان به تشویق شي.

دولت او اړونده ښکیلي خواوي باید یواندازه پانګه اچونه په بریښنا وکړي، چې د کوچني او منځني کچې کاروبارونو دبریښنا کمښت پوره شي، چې دهغې له جملې څخه باید سولري، بادي او د ډبرو سکرو څخه بریښنا تولید د کموالي مخنیوي به یې وشي.

صنعتي پارکونو زیربناوي رغول لکه سرکونه، ویالې، فرعي لارې او داسي نور، همدارنګه صنعتي پارکونو باید فعال شي، ځمکې یې توزیع او د بریښنا امکانات ورته برابر شي دامنیت خوندیتوب لپاره یې باید جدي پاملرنه وشي.

په ګمرک کې سکینر فعاله شي، دقیق نظارت وکړای شي چې قیمتي اجناس د ارزانه اجناسو په قیمت محصول نه شي، دقاچاق او بې کیفیته اجناسو مخنیوي وشي، د اجناسو د بارونړلو او زیرمه کولو لپاره اسانتیاوې برابري شي همدارنګه د ګمرکاتو قوانین د یوشان عملي شي.

داخلي کارکونکو لپاره باید د ظرفیت لوړوني پروګرامونه ترتیب کړي، او د ضرورت پراساس دي د بهرنیو مسلکي کارمندانو لپاره د ویزې په برخه کې یو جامع طرزالعمل رامنځته کړي. همدارنګه دولت باید د بهرنیو هیوادونو د ډمپنګ پالیسي ته چې داخلي تولیداتو د زیانمن کیدو سبب ګرځي توجه وکړي.

کوچني او منځني کچې کاروبارونو پر اساس هیواد اقتصادي پرمختګ کوي، دولت باید د دغو کاروبارونو متشبثینو ته باید د مسلکي روزنې زمینه برابره کړي او د روزنې څخه وروسته داسې کاروبارونه پیل کړي چې د هغه او هیواد لپاره کتور تمام شي.

کورنیو تولیداتو ته باید په ملي او نړیواله کچه کمپاین وشي، دبازارموندنې لپاره یې باید څېړنه او موثره تبلیغات وکړي.

۱۰. ماخذونه

1. Taraki, S. A. (2019). Proposal for SMEs Development in Afghanistan Based on Turkey Experiences (New Zabulian Doctrine). International Journal of Science and Research, 8(4), 10-21. Retrieved from https://www.ijsr.net/archive/v8i4/ART20196866.pdf
2. Abdullah, M. (2021). SMEs' Development in Afghanistan: Issues and New Management Perspectives. Management, 9(4), 295-333.
3. Khan, W., & Adel, K. (2019). Evaluation of factors affecting small and medium enterprises growth in Afghanistan. Kardan Journal of Economics and Management Sciences, 2(4), 17-30.
4. Elagin, D. (2019). SME Development in Fragile Contexts: Analyzing the Experience of Afghanistan. Available at SSRN 3498992.
5. HABIBI, H. (2020). THE CONSTRAINTS OF AFGHAN SMEs IN THE PROCESS OF PUBLIC PROCUREMENT (Doctoral dissertation, American University).
6. Mussawy, S. N (2021). The Role of Small Medium-Sized Enterprises in Economic growth of Afghanistan Challenges and opportunities.
7. Faqiri, F. M., Shams, M. S., & Gul, S. (2019). Small and medium enterprises in the garment sector of Afghanistan: Challenges and prospects. Kardan Journal of Economics and Management Sciences, 2(4), 70-82.
8. Neufeld, B., & Earle, J. (2014). The Growth of Export-Oriented Small and Medium Enterprises in Afghanistan, Kyrgyzstan and Tajikistan. ERN: Trade & Foreign Exchange Policies in Developing Economies (Topic).
9. Mirza, A., & Baharudin, S.'. (2024). INNOVATION BARRIER TO SMES DEVELOPMENT: EVIDENCE FROM AFGHANISTAN. International Journal of Business and Society.
10. Masenya, T.M. (2023). Big Data Analytics as a Game Changer for Business Model Innovation in Small and Medium-Sized Enterprises in South Africa. International Journal of Innovation in the Digital Economy.
11. Kiet, T.V. (2023). The measurement scale of determining organizational effectiveness through the intermediary role of organizational engagement and creative behavior in for small and medium-sized enterprises in Ho Chi Minh City, Vietnam. International Journal of Research in Finance and Management.
12. Naibzi.A.W ."کوچني او منځني کچې کاروبارونه". (۲۰۲۲),dawatmedia24: https://dawatmedia24.com/?p=145001
13. Pasarli.S ."د کوچنیو او منځنیو سوداګریزو فعالیتونو اهمیت". (۲۰۱۶),nunn.asia: https://www.nunn.asia/72867/

14. Tolonews ″پـه هـيـواد کي دکـاراوبـار پـه اړه دپـانـکـوالـو نـاخـوښـمي″ (۲۰۱۸). tolonews,2018: https://tolonews.com/pa/business/
15. Arianananews۱۵. (۲۰۲۳). ″حکومت له کوچنیو تشـبثاتو څخه دملاتړ لپاره له ۱۰ نا دولتي بنسـتونو سـره هوکړه arianananews: https://www.arianananews.af/ps/لیکنه لاسلیک کړل″ .